چې شوې مئين ځان ته ښېرې کړې
اخته په غم شوې، اوس نعــرې کړې
تاو دې له ځانه سرې لمبـــــې کړې
ښايي، چې ته هم شوګېـــرې کړې
پــه نيمــه شــپه دې د بنګــړو شــړنګا راځينــه

***

خدايه د زړه درمان مې راغى
خوشاله يم ارمــان مــې راغى
ومه صحـــــرا باران مې راغى
يم په رکوع جانان مــې راغى
سجدې ته ښکته شم کـه يـار تـه جيګـه شـمه

***

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشئ دا زړه ورته لوګـــی کړئ
دا ټول خواږه ورته لوګـــی کړئ
هرڅه، هر څه ورته لوګـــی کړئ
زمــا بانه ورتــه لوګـــــی کـــړئ
زمــا کاتـــه پـــه جانـــان بـــد ولـــــــــږېدنه

***

مــا تـــه پـه مـــــینه اترنګ راوړه
ته د سپرلــــیو نـــه رنګ راوړه
راشه د مینې تېر جــنګ راوړه
پـه لـپـو لـپـو لـــــونګ راوړه
زه تـــرې د غـــاړې امېلونـــه جوړومـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان به سینګار ښه په مـــزو کړم
ښه شنه بنګړي به په لاســـو کړم
شـــروع به کار د اشـــــارو کړم
جوړ به کمیس د ســـتـــارو کړم
زه پخـــوانی رواج واپـــس ژونـــدی کومـــه

***

مینه خوږه لکه د شـــــات ده
نفرت د زهرو نه ورزیـــــات ده
خـــبره اوس د انـــتـــقـــاد ده
هـــــره خبـــره مې په یـاد ده
لتـا نـه پـس بـه څنـګ پـه بـل بـاور کومـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوی به ترې خيژي د لونګـو
قربان، قربان له غنمـــــرنګو
نشـه لـــــري لکه د بنــــګـو
ای مينه ښـه وي د ګل رنګـو
په تش نظـر د سړي ورک کـړي ټـول غمونـه

***

خوراک دې دي د غره ممانۍ
الوت کــــــــوې لکه د زانۍ
زلفې دې ســـم د ګلاب پـانۍ
خو بيا ترخه يې تــر بکيانـــۍ
پـه نـه خــبره راتــه جــوړ کـړې ســل غمونـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانته به جوړ يو نوی غم کړم
تازه به بيا د سترګـــو نـم کړم
د ژوند سکون به لږ را کم کړم
پيدا به ځانته يو صنم کــــړم
ماتـه بـې غـــمه ژونـد مـــــزه نـه راکوينـه

***

سلګۍ وهمه راته ګــوري
فرياد کـومه راته ګــوري
زه ژوند بيلمه راته ګوري
له درده مرمه راته ګــوري
د يـــار پـــه يـــو نظـــر رغيـــږم نـــه راځينــــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



درپسې ډېره يــــم اوتره
مــړه پــه تا يمــه دلبره
ته چرته يې د زړګي سره
ته راشه يـــــاره زوروره
پــه ســپينه خولــه درتــه زارۍ منــت کومــه

***

دا کړې چا راته ښېــــرا ده
د ښار ښکلا چې مې سزا ده
د غم او درد برخه زمـــا ده
نوره کيسه رانه خـــــطا ده
پــر ژبــه ښــې خــبرې کــړم کــږې راځينــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېـــــوال نړېږي بلۍ څاڅي
يار څه بـه کيږي بلۍ څـاڅي
زړه مې درزيږي بلۍ څـاڅي
باران وريـــــږي بلۍ څـاڅي
پــه مــا راڅــاڅي د جانــان خــواږه يادونــه

***

اخته په ځان شوم رانه هېـــر شوې
ځانته حيران شوم رانه هېـــر شوې
تنګ په جهان شوم رانه هېر شوې
چې زه روان شوم رانه هـېر شوې
پــــردی مـــزدور وم، لـــه بـــاداره يرېدمـــــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم مې له ګله یار په څه دی
ماته له هر ګلابه ښـــــه دی
زه پرې مین یم زمـا زړه دی
جانان د بدو ســـــړی نه دی
پــوهېږم ښـــه چـــې غــمازان یـــې لمســـوینه

***

ښه په خـوندونو دې ځـــان موړ کړ
زما د مـینې جـنګ دې ســـــوړ کړ
دا نـــوی غــــم دې راتـــه زوړ کـړ
په سپینه خوله دې چاپ راجوړ کړ
اوس بـه ادکــې مــور تـه څـه جـواب کومـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه ښکـــــــاره ماله ګلاب راکه
یا مې رخصت کړه ځواب راکه
شابه کړه  ته انتــخاب راکـــــه
ماته پرېکــــــړی ځــــواب راکه
زه دې د بــــل د یــــارانې ویســــتلی یمــــه

***

اه تیر وختــونه څه خواږه ؤ
ډېر به ملـــــګـــري راسره ؤ
ښه په خـــوښیـــو به مــاړه ؤ
د ماشومتوب وختونه ښــه ؤ
اوس چې زلمـی شـوم جینکۍ مې تنګوینـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



درپسې مرم ډېر مـــې يادېږې
ومنه هيڅ مې نه هـــــېرېږې
هرڅه کوم که ته رغـــــېږې
که ته رنځور په ما جـــوړيږې
ســـالو بـــه واچـــوم سرتـــوره بـــه درځمـــه

***

د ژوند سکون د وجود ساه ده
ودانه ټوله پرې دنـــــــيا ده
نامه يې خوښه د هـــــر چا ده
مـــــــينـــــــه روا روا روا ده
دا نـــــاروا ورپســـــې چـــــا ويـــــلي دينـــــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به هـــــر څه په زړګي تېر کړې
ځان به د خوږ کاڼي په څېر کړې
د زړه ټوټه به بيخي هــــــېر کړې
مات شوی زړه به را کوشـــېر کړې
خــو نـا مـردې اوښــکې بـه وار نـه درکوينـه

***

په دې نړۍ به دې پرېږدم
زه په نيستۍ به دې پرېږدم
په مجبورۍ به دې پرېږدم
په غريبۍ به دې پــــرېږدم
پـــه بـــې ننګـــي بـــه درنـــه واخلمـــه لاســـونه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست په وره شکـــــرې غواړي
زړه لـــه مـــا ملغلـــرې غواړي
د مينې خوږې سندرې غـواړي
دا زړه مې ستا خــــبرې غواړي
لـکــــه د للمـــې غـــــنم غـــــواړي بـارانـونـــه

***

زړه مې په درد ښــــــه برابر دی
غرق د يارۍ په سمـــــنــــدر دی
خــــوشــالي نلـــري اوتـــر دی
زما نصيب د سالنګ غــــــر دی
په نـورو لمـر وي، پـه مـا سـپينې واورې وينـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـړه ســــــړه هـــوا لــګـیږي
یخني شېبه، شــېبه زیـــاتیږي
سور شال مې وګوره لمـــدیږي
نـــري نــري بـــاران وریـــږي
پـــه تـــا دې اوري پـــه مـــا ونیســـه لاســـونه

***

وهـم نعـرې میدان ته راشه
مکړه ښېرې میدان ته راشه
یوځل وړې میدان ته راشه
د غرغـــرې مېدان ته راشه
ســبا مــې ســتا پــه تهمــت دار تــه خېژوینــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا په زړه ياره پوهيـــږم
خو زه مجـــبوره يم درديږم
دا چې غورځيږم پورته کيږم
ټينګه مې مه نيـــسه خوريږم
بېګـــاه ظـــالمو ورونـــو بيـــا وهلـــې يمـــه

***

هره خندا يې مـــسکا نــه وي
خو مسکا يې له خندا ښــه وي
نرى باران او تـــوره شـپه وي
د اشنا ډاډ دې راســـــره وي
کــه د نمــرود د اور لمبــې وي، پــرې ورځمــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



څانته په خـــــپله غم را زيات کړم
جوړ شوی زړه مې بيا را مــات کړم
په اسويلو يــــــــې ښه برباد کړم
چې ستا د مينې وخـــــت راياد کړم
رابانـــدې وچـــورلي دا زمکـــې اســـمانونه

***

نه به غبرګون نه به احــــــتجاج کړي
راځي حتما به مې عـــــــــلاج کړي
وخت به مې دا ستا د ســــرتاج کړي
خدای به دې بيا راته مـــحتاج کړي
چې وخت تيريږي زما ياد به دې سيزينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه مې ته پوهېږې يــاره
په بل مې نه لورېـــږې يـاره
په زړه مې ښه لګېږې يـــاره
زما نه نه هېــــــرېږې يــاره
پـــه هـــر راکـــړي زخـــم شـــکر اوباســـمه

***

پښتانه بيا ســــــره جـرګه دي
ډېرى خلک په انديـښنه دي
پوهېږم مونږ پسې غوسه دي
نښې دې ډېرې راســـره دي
د زړه تــالاب تــه يــو يــو کــاڼی غورځومــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند دې ښه دی، لا پسې ښه شه
دنګه ځـــواني دې خزان مه شه
د زړه دې هر مـــــــراد پوره شه
دا خوشحالي دې يو په دوه شـه
محرابـــه يـــاره زه پـــه تـــا ابـــاده يمـــه

***

خدايه بيا به څه چل کيږي
چپه سترګه مې خــوځيږي
زړه مـې نرى نرى درزيږي
پاڼه په باد باندې رپيـــږي
جينۍ چې خال په تندي ږدي څوک به لرينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تربوره خداې دې جـــــــوړ كه
د سترګو توره خداى دې جــوړ كه
د ژوند انځوره خداى دې جـوړ كه
په رنځ رنځوره خداى دې جوړ كړه
زما وړې وړې سلـــــګۍ در پسې دیـــــــنه

***

چې خنــــدېدم هغسې نه یم
چې ګرځېدم هغـــــسې نه یم
درسره بــه تلم هغــسې نه یم
تا چې لیــــدم هغــسې نه یم
اوس پــه لكــړه د تنــور غــاړې تــه ځمــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره خوږه د مور نامه ده
ډېره سپېڅلې او خــوږه ده
په درنو کاڼــــــو درنه ده
خو له مورګانو مـې ګيله ده
زامـن خپـل کـړي لورګـانې بـل تـه ورکوينـه

***

اول يې ښه په ځان مئين کــړم
غرق يې زه په سپين جبين کړم
بيا يې جدا له لونګين کـــــړم
اوس يار لاهـــو په اباسين کړم
په کناره راســــــــــــره ځي ډاډ راکوينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه ميخانه دې خـاورې واوړه
پـه دوستانه دې خاورې واوړه
پـه مستانه دې خــاورې واوړه
پـه يارانه دې خـــاورې واوړه
تشـــه دعـــا راتـــه کــــوه ناروغــــه يمـــه

***

بالښت لانـــــدې دنداســـه ږده
ماته ښۍ لاس ته په ســـينه ږده
درانه غمــونه ته پـــه زړه ږده
لاس دې د زنې لاندې مـه ږده
نازک غمبوري به دې ګونځې ګونځې شينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ښایسته نه غنمـــــرنګ وې
بوچ شوي ته په ما ملنګ وې
راسره هسې به په جــنګ وې
ته په بدرنګو کې بدرنګ وې
خـــړســـترګی زه وم چـــې پـــه تـــا مئنیدمـــه

***

دا د ماتم خـــــــبره نه ده
واوره صـــــــنم خبره نه ده
درپسې مـــــــرم خبره نه ده
غم دې د زغـــم خبره نه ده
نـــور بـــه پـــه چیغـــو چیغـــو کلـــې خـــبره ومـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکته مـــــــه ګوره نیازبینه
ای په شـــوخۍ باندې میینه
دا راته ووایه شـــــــــیرینه
بې شرمي توره وي که سپینه
مور مې په کټ کې شنه بنګړي موندلي دینه

***

دغه شـــمال د ابادۍ دی
زما په خـیال د ابادۍ دی
ښه جوړ جال د ابادۍ دی
ســـرۍ کال د ابادۍ دی
د جینکـــو مینـــدې بـــه ډېـــــرې وژاړینـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا ښاغلي را واپـــــس کړئ**
**په مینه تلي را واپـــس کړئ**
**بېلتون ځپلي را واپس کړئ**
**په زړه داغلي را واپس کړئ**
**چرتـــه ځنګـــل بانـــدې بـــه اور ولګوینـــه**

***

**مسافري پـــرې نه تیـــریږي**
**یوه لحظـــه یې نه هـــیریږي**
**شېبه شېبه یې زړه دردیـــږي**
**ورته د کور غــــړي یادیږي**
**پـــه نـــن ســـبا کـــې بـــه یـــار کـــډه وتړینـــه**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خدای قسم نه مې هیریږي
ښه بنداړونو ته مې زړه کیږي
زړه مې تنګ دی او دردیږي
د چا به کور کلي یادیږي
زما یادیږي د یارانو مجلسونه

***

مونږ د یو بل په زړه پوهیږو
زه او یار نو ښه پوهیږو
په دې کیسو نو څه پوهیږو
مونږ په نکریزو نه پوهیږو
څوک چې لاسونه سره کوي یاره به لرینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې دوه ځایه شو میرات شــو
افسوس په برخه مې بایلات شـــو
ورک شوی غم مې بیا را زیات شو
د سپینې خولې ستر مې مات شو
د چـــاولو ټــک مـــې الکـــانو واورېدنـــه

***

زما د حـــسن کـیسې وایـــي
څوک مې سندرو کې ښه ستایي
د خوشالۍ په لور مــــې بیایي
که ناز کـــــوم راســـره ښایي
یـــو ښایســـته یـــم بـــل د لویـــه کـــوره یمـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



شر دې پرېــده زوره وره
څو به ستم کړې ستمګره
مینې راوستم ستا تر دره
د جونو پلاره ســـوداګره
د کشــــرۍ بیـــه کـــــوه راغلـــی یمـــه

***

کله نه چې اخته په محبت شوم
لکه خسڼه سپک د وخـــت شوم
ځانته خړ سترګی ملامـــت شوم
د بې غیـــــرتو بې غیرت شـــوم
ځـای د تهمـت شـوم چـې پـه تـا مینیدمـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سکـــــــون دی زمــا زړه دی
ښه دی یار پوه مې په هر څه دی
شکر په دې چې مې په خوله دی
خو د یار دا عـادت ښــه نــه دی
وړې وړې خـــبرې زړه تـه غـــور ځـــــوینه

***

په مینه مـــــوړ زما دا زړه که
ورکه تیاره د بیــلتانه کـــــــه
دا مئین زړه مې لږ را ښه که
وکړه قــــرضه او ما واده که
اوس خـو ټـول خلـک پـه قرضـو واده کوینـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جینۍ خوړلې دې کیسو ده
وارخطا کــــړې اندیښـــنو ده
د غــربت د لاســـه په زارو ده
کوټه مو ډکه د لوګــــــــو ده
ماتـــه تکیـــه شـــه دېـــوال ډډه توروینـــه

***

بعضې کارونه دې خـــــطا دي
هر څه هېر کړي دي زمـا دي
څه کوډې کړې دې په ما دي
تســبو کې دوه، دوه ناروا دي
ماتـــه روا دي یـــوه یـــــار تـــه اړومـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راشه د زړه علاج مـــــې وکه**
**درمان مې شه علاج مې وکه**
**ومنه ته علاج مــــــــــې وکه**
**په سپينه خوله علاج مې وکه**
**نــور د چېنــدرو پــه کربښــو مــه وهــه ټوپونــه**

***

**خدايه بيا به څه چل کيږي**
**چپه سترګه مې خـــــوځيږي**
**زړه مې نرۍ نرۍ درزيـــږي**
**پاڼه په باد باندې رپيــــــږي**
**جينۍ چې خال په تندي ږدي څوک به لرينه**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنایست دې مل د پیغلتــــــــوب شه
ورک دې د سپینې خولې شومتوب شه
درنه قــربان مـــــــې زلمـــیتوب شه
راشه په سترګو کــــې مــــې خوب شه
زه شــــوګیرو د بیلتانـــه خـــوړلی یمـــه

***

ربه موسم ته لـــــــیونی کړې
د مینې ډک مې دا زړګی کړې
د ښکلو ښکلو مې لوګـــی کړې
ما د لیلا د سر منګـــــــی کړې
چې پـه سـینه مـې کشـوي پـه سر مـې اوړینـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګودر خوا ځومره ښایسته ده
د جونو جوړه پرې جــــرګه ده
زما په زړه دا ســـــــــتا نامه ده
دا مې له تا ســــره وعـــــده ده
ځــو چــې ژونـدی یـم زه بـه سـتا رضـا کومـه

***

نن مې د یار سترګې یادیږي
خمار خمار سـترګې یادیږي
هغه انګار ســـــترګې یادیږي
زړه ته قرار ستــرګې یادیږي
خدایه ماښام کړې چې یې خوب کې ووینمـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل دې ويـــــــــل وځـــه له کوره
بـــــــس په وطن ننګ وکــــړه نوره
ښه شوه چې خلاص شوم له پيغوره
په مــينه ميــــنه راته ګـــــــــــوره
د جنـــګ ميدانـــه بريـــالی راغلـــی يمـــه

***

پرون يې ويل خــــــدای د پاره
ودريږه مـــــــه راتـــــــه په لاره
دا مـــې تــــــــه ومــــنه نګاره
څوک به دې مړ کړي خوږه ياره
ماتـــه پـــه لويـــه لار کـــې مـــه نيســـه ګلونـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه لکه ځمکه ته اسمان شـــوې
د زړه له تله راته ګران شـــــوې
په څه خبره مې جـــانان شوې
رخصت دې واخستو روان شوې
پــه زړه دې نشــته د يــارۍ ســوي داغونــه

***

زه پرې مين يم يار ښايسته دی
سم ګلاب دی شهـــــزاده دی
يار مې ځان يار مـــې زړه دی
ښايست د تورو غـــرونو ښه دی
پـــه بـــازاري پــوډرو ډېـــر وغوليدمـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته په خوله مې دا اقــرار دی
لیکم غزل دا مې روزګـــار دی
مینه مې ژوند مینه مې کار دی
یار خو مې یار ریبار ریبـار دی
د یـــار پـــه ســـترګو د ریبـــار قـــدر کومـــه

***

راشه ښکاره د مـــــینې زور کړه
دا مین زړه مې لړ تکــــور کړه
راته رنګین دا کلی کــــور کړه
ځان دې زما د مور اینګور کړه
زه پـه مـور ګـران یـم سـتا بـه ډېـر قـدر کوینـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ۇ تورو شرنګ ډګر کې مــړ شو
په وينو رنګ ډګر کې مـــړ شو
وطن په ننګ ډګر کـــې مړ شو
پښتون د جنګ ډګر کې مړ شو
پښــتنې پيغلــې يــې لــه وينــو ږدي خالونــه

***

ياره يوځل وطن ته راشه
لکه د ګل وطــن ته راشه
زما کابل وطـــــن ته راشه
جانانه خپل وطن ته راشه
پــه کـار مــې نـه دي د اوکـراين ډېـر دولتونـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه په سلګو ياري مې کړې
د نيمو شپو ياري مې کړې
د لوړو غرو ياري مې کړې
د جنکو يارې مـــــې کړې
ځکـه مـې شـونډې د ګـلاب پـه شـانتې دينـه

***

جانانه تکــه توره شـــــپه ده
په چم ګاونډ تياره خـوره ده
ياره په ما د غم شـــــــېبه ده
په زړه مې جوړه انديښنه ده
خلــک ويــده دي زه رنځــوره ناســته يمــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ ترینه څو په خدای توکل دی
مونږ ته په کلـــــي کې اور بل دی
دا محراب ګل مخلص مې مل دی
په تورو غرونو کـــــې مـــزل دی
جـــوړه جـــوړه بـــه لاس نیـــولي سره څونـــه

***

جانانه نـــن په رښتیا راشه
جانانه یمــــــه تنها راشه
جـــانانه ځنګ ته زما راشه
جـــانانه ومنه بـــــیا راشه
دا زه منـــت درتـــه پـــه سرو شـــونډو کومـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وخته بیا مې لېــــونی که
ته مـــــې د غرونو غرڅنی که
د چا ښکلا نه مــــې لوګی که
بیا مې له درده ډک زړګی که
ماتــه پــه ارامــه ژونــدون خونــد نــه راکوینــه

***

په تا مین له ډیـــــــره وخته
خو په نصیب یمه کـــــمبخته
ته په زړګي یې ډیره ســــخته
څنګه نرۍ یې لکه لښـــــــته
کوم یو خوشبخته بـه دې هـار د غـاړې کړینـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه جانانه نور معلــــــــوم که
نن په ټول کلي کور معلوم که
د خپل مین زړه شور معلوم که
که زورور یې زور معلـــــوم که
اوس مــې ډولــۍ د کــلي مــنځ کــې تېروینــه

***

هجر په زړه زرې زرې کـــړم
هسې یې زه خاورې ایرې کړم
داسې په زوره چې نعـرې کړم
د زړه له درد درله ښـېرې کړم
ګنــې ښــېرې مــې پــه تــا کلــه پــیرزو شــینه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره ښایسته زما وطـن دی
زما زړګی دی زما تـــــن دی
ماته فارس ماته لنـــــدن دی
یاره د سرو ګلو ګلشـــــن دی
پکـــې اوســـیږي پښـــتانه درانـــه قومونـــه

***

غـــــزل غـــــــزل ټپه ټپه شي
بیا د هر چا په خوله خوره شي
چې کله خاندي تکه سره شـــي
سم د پغمان د باغ مـــــنه شي
چـــې درتـــه ګـــورم لکـــه مالګـــه اوبـــه شـــمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مـــــینتوب راپورې اور شو
دا لېونتوب راپــــــورې اور شو
په مړوند خوب را پورې اور شو
دا زلمـــــیتوب راپورې اور شو
کــه دا مــې یــاد وي بیــا بــه مینــه نکومــه

***

ناز او ادا دې لېـــــونی کړم
ګلې خندا دې لېــــونی کړم
سم په رښتیا دې لېــونی کړم
د مخ رڼا دې لېـــــونی کړم
شــوم ســودایي پــه لاره ځــم ګــوتې شــمارمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه سره ښه کــوئ روغ ګرځئ
بس تش کاته کوئ روغ ګرځئ
نور که هرڅه کوئ روغ ګرځئ
خو مینه مه کوئ روغ ګــرځئ
دا نصــیحت درتـــه د ورور غونـــدې کومـــه

***

که په شارجه که په یونـان وي
که په هایلنډ که په جاپان وي
که په سعودي که په ایران وي
که په اوکراین که په ایران وي
چـې مسـافر هـر چرتـه وي خوشـال دې وینـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه نادانه که يې ګـــورې
يه په ما ګرانه که يې ګورې
په زړه سندانه که يې ګورې
مخلص نادانه که يې ګورې
پـه زړه مـې تـورې وينـې ځـي درپسـې مرمـه

***

وکړه اقرار خپه پرې نه يـــم
وايه په جار خپه پرې نه يم
وکه اظهار خفه پرې نـــه يم
وکړه اتبار خفه پرې نه يـــم
جينۍ که زړه دې د يارۍ موړ شوی وينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د تورو جامــــــو یاره
درته ولاړ په نیـــــمه لاره
راځه راځـــــــه زما نګاره
دا ستا د دوو سترګو د پاره
پــــه انتظـــــار درتــــه بهـــــر ولاړه یمــــه

***

نه پرې تهمت او نه پرې تور وي
لرې له هــــــر چا له پیغــــــور وي
د ننګ څادر یې په مخ خور وي
پېغله په کــــور او یا ګـــــــور وي
پښــتنې پیغلــې ښـه ښایســته لــرې خویونــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه جنون را باندې راغــی
حال د مجنون راباندې راغـی
وخت د بېلتون راباندې راغی
نوی ژوندون راباندې راغـــی
پــه نــا اشــنا ښېــره کــې غــاړه راکوينــه

***

د مينې زور ماته معلـوم دی
د مينې تور ماته معلـوم دی
د هجر اور ماته معلــوم دی
د جانان کور ماته معلوم دی
د بــام پــه سر يــې کشــمالي کــرلي دينــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



گوره مخلصـــــه زما گله
دا ستا د مينې يم پاگـــله
د بل به نشمه هيڅكــــله
زما د څنګې اوربل گـــله
پـاس پـه اوربـل بـه دې هـر وختــې گرځومـه

***

د زخمــــي زړونو دوا شــــته دی
دوست او دښمن د هر چا شته دی
هم يې لالي او اشـــــنا شته دی
څو چې غماز په دنيا شــــته دی
عاشــق دې نـه تـړي پـه خپـل اشـنا شرطونـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګلابي رنګ دې لېونی کـــــړم**
**د سترګو جنګ دې لېونی کړم**
**بوي د لونګ دې لېونی کــړم**
**د بنګړو شړنګ دې لېونی کړم**
**پـــه لاره ځـــم ګـــوتې شـــمارم تـــا یادومـــه**

***

**له رنګه تور دی غنمرنګ دی**
**په ما مین زما مـــــــلنګ دی**
**همېش ولاړ زمــا په ننګ دی**
**جانان مې بوټی د لونګ دی**
**د مـخ خولـو نـه یـې د عطـرو بـوی راځینـه**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــــــــا ښايســـــته ياره نادانه
ژوندون مې ګران دی بې له تا نه
د زړه سکون د زړه درمـــــــــانه
چې و دې نه وينــــــــــم جانانه
پـــه مـــا ودانـــه دنيـــا ورانـــه وي مينـــه

***

زما په برخه ستا ديــــــــــدن شه
زړګی دې تور نور د لنـــــدن شه
نور دې نصيب په خپل وطن شه
ستا لوپټه زمـــا کفـــــــــــن شه
چـــې تـــور لحـــد رابانـــدې زيـــړ ګلونـــه شـــينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



چم ته قدم راسره کېده
لاسونه سم راسـره کيده
وعده صنم راسره کيده
لاس په قسم راسره کيده
کـــه نـــازولې مـــې ســـاتې درسره ځمـــه

***

بس کـــه تياره ده که رڼا ده
خو زه ورځم زما ســــودا ده
دا ښنګه شور ښنګه غـوغا ده
پاس په جونګړه کـــې ژړا ده
يـا ځـوک مـين دی يـا د يـار د غيـرې ځينـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه پیوند دې مـــبارک شه
د مینې خوند دې مــبارک شه
خوب په مړوند دې مبارک شه
دا نوی ژوند دې مـــبارک شه
پــه تــا را مــه شــه د خــزان ســپیره بادونــه

***

زما د ټول عمر ارمــــان يې
جانانه خوږ لکه ایمان یـــې
ماته له خپله ځانه ګران يې
مخلصه یاره ډېر نادان یـــې
هــر چــا تــه وايــې تــه د خپــل زړګـي حالونـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما اخـــــتر زما سپــــرليه
زمــــا د ميــــنې ليـــونيه
زما ســــاده ســــاده لاليه
د تورو غرو د سر شپونکيه
شـپېلۍ دې ماتــه ده کــه تــه کــوې خوبونــه

***

څومره کړي خوند د مينتوب ژوند
ياره هغـــــــه د لېـــونتوب ژوند
په کار مې نه دی سړيتـــوب ژوند
څومره وي خوږ د زلمېتــوب ژوند
چــې د جانـان سره څـوک يـو ځـای تېروينـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـــــا په زړه وې رانه لاړې
ته مـــې هــرڅه وې رانه لاړې
تش په کاته وې رانـــــه لاړې
که خدای مې ته وې رانه لاړې
که خدای مې بل وي تانه ښـه بـه مـې ساتینه

***

په توره شپه مرور لاړې
رانه خفه مـــرور لاړې
آخر په څه مــرور لاړې
له ما چې ته مرور لاړې
د چــم ګاونــډ پیغلــې پیغــور راتــه کوینــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما شباب شباب جانانه
زما افتاب افتاب جانانه
زما شراب شراب جانانه
زما ګلاب ګلاب جانانه
څنګـه دې هـېر کـړل مـا سره کـړي لوظونـه

***

لاړل هغه وختونه تېـــــــــر شول
له تانه اوس شيرينې هـــــېر شول
اوس دې خويونه ښار په څېر شول
پاس په کوټه کټونه ډېـــــــر شول
بنګـړو تـه شـړنګ ورکـړه چـې ودې پيژنمـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لالي به بیا توره تېره کـــــــــړي**
**په سنګرونو کې به شپه کـــــــړي**
**په خپل دښمن به خوا سـړه کړي**
**چې توره نه کړي نور به څه کړي**
**چـــې یـــې شـــېدې د پښـــتنې رودلـــې دینـــه**

***

**نور دې هجران زغملی نه شـم**
**په زړه دردونه وړلی نه شـــــم**
**داسې تریخ ژوند کولی نه شم**
**په خوله درته هیڅ ویلی نه شم**
**د زړه لـــه تـــاوه بـــه بښـــېرې درتـــه کومـــه**

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوچونه ډېر فکرونه ډېر شول
جنګونه ډېر مرګونه ډېر شول
غمونه ډېر دردونه ډېر شـــول
ولسونه ډېربشارونه ډېر شـــول
شــــيرينه يـــاره تـــا بـــه چرتـــه لټومـــه

***

د يار لټون کلي ته راغـــــی
هغه جنون کلي ته راغـــــی
بيا څه بدلون کلي ته راغی
خدايه بيلتون کلي ته راغی
جوړه جـوړه يـاران پـه يـو ځـای نـه پرېږدينـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غم وخت يــــــې را زيات کړ
مړ يې کړم زه ، زړه يې مات کړ
لکه کاغذ داسې يې قات کـــــړ
په نيمه شپه يې يار راياد کـــړ
کــوم ځــوانيمرګ شــپېلۍ پــه مينــه غږوينــه

***

داسې اخته په وير د ځان شوم
په کړې مينه يې پښيمان شــوم
په غرونو سر شومه حيران شوم
د ژوند په لاره زه حيران شــوم
دا ســـتا مينـــې زه لـــه ژونـــده وويســـتمه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د سپينې غاړې هار شـــه
راشه زما شه زما يار شـــــه
ته مې سکون ته مې قرار شـه
دا سر او مال مې له تا ځار شه
شــيرينه يـــاره زه پـــه تـــا ابـــاده يمـــه

***

په تن مې پورې شول اورونه
داسې درانه درانه غمـــونه
دا د ټول کلي پيغــــورونه
څنګه به نکړمه ســــوچونه
پـــه مـــا د مينـــې دنيـــا ورانـــه شـــوه مينـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دننه زړه راته غـــرېـــږي
سلګۍ وهي راته ژړيـــږي
بې اوره سوځي لمبه کيږي
په مينه زوړ سړی ځوانيږي
زمـــا پـــه تـــوره ږيـــره ســـپين ولګېدنـــه

***

خدايه زما جانان زمـــا شو
زما په مينه اوس رضا شــــو
په شا روان دی په خـــندا شو
مازيګر مونځ رانه قضـــاء شو
نـــوی مئـــين وم پـــه ديـــدن نـــه مړيدمـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدبختۍ نیستۍ د لاسه
د مزدورۍ نیستۍ د لاسه
د بې وسۍ نیستۍ د لاسه
د غریبۍ نیستـــۍ د لاسه
ځوانان د خپل کلي او کـور ورک شـوي دینـه

***

په ټنډه ایښی دی شین خال دی
اوربل دې جوړ په څه کمال دی
درپسې زړه زما حـــــــلال دی
په سر دې شال مخ دې مشال دی
دا څووم کـال دي چـې مئـین دربانـدې یمـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځه ورځه د سترګو تــــــوره
زه ډېر ډاريږم له پــــيغـــــوره
زما د زړه د درد ټکـــــــــوره
په مخکې ځې په وروستو ګوره
وروســتی ديــدن دې پــه زړه لارې جوړوينــه

***

دا څه چې تېر شول او تيريږي
هر چاته خپل قسمت رســيږي
خلکه تقدير کلــــه بدليـــږي
څه چې ليکلي هغه کــــــيږي
زمــا قســمت کــې بــه يــې ژړا لــيکلي وينــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناز او ادا شيريني راکـــړه
وعده صفا شيريني راکــړه
نن په رښتيا شيريني راکړه
لاس د وفا شيريني راکــړه
د ژونــد لــه کــاره ګلــې تــا ويســتلی يمــه

***

چې راسره به تل پــه څنګ وو
د درې رنګه بيرغ پــه رنګ وو
خپلو منځو کې به په جنګ وو
چې مړوندونو کې مې تنګ وو
هغــه بنګــړي مــې اوس څنګلــو تــه راځينــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلې مينې مې مجـــنون کړې
پوی مې په راز ته د ژوندون کړې
غم نه مې لرې په ســـــکون کړې
له هندوستانه مې راســـتون کړې
لـــه ګورســـتانه بـــه دې ځـــوک راســـتنوينه

***

کله چې ستا د مينې غل شوم
لکه غنم په ژرنده دل شــــوم
سم دم سړی ومه پاګل شـــوم
سم د مئين سړي غزل شـــوم
ســـتا يـــارانې خـــو پـــه مـــا سر وګرځوونـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره دې جوړه سترګې خمارې
سمه ښايسته شيرينې ښــــکارې
سم جوړوې په زړه کــې لارې
په بام ولاړې هــــــــوا دارې
مرګــی دې هېـر دی پــه اوربـل وهــې لاســونه

***

ژوند مې خزان دی خـــــوږه یاره
بې له تا ګران دی خـــــــوږه یاره
سخت دې هجران دی خوږه یاره
ارمان ارمان دی خـــــــوږه یاره
د غريبـــــې د لاســـه ورک د ملکـــه يمـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه دې څه دي راته وايـه
راسره مل يــــې ژوند تر پايه
ما ځوروې ولې بـــــې ځايه
بيلتونه کور دې راته ښــــايه
د زور دې نـــه يـــم ننـــواتې بـــه درځمـــه

***

مورې په ما چې ستا نظـــر وي
ژوند به مې بچ له هر خطر وي
په ما به هر ساعت اخــــتر وي
چې ستا دعا زما په ســــــر وي
زه به کامياب د ژوند پـه هـر ميـدان کـې يمـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه څومره ښه وم چې کمکۍ وم
له ښکلا ډکــــه ګلالـــــــــۍ وم
د شوخۍ موچ کې لــــېونۍ وم
که ته شهیــد شوې زه ژوندۍ وم
ســپینه روپــۍ بــه ســتا پــه قــبر بانــدې ږدمــه

***

مینه کـــــوم وزګـــــاره نه یـــــــم
د بیــــــلتانه په لاره نــــــــــه یم
عشق مې دی کار بې کاره نه یم
یار خو مې شته بې یــــاره نه یم
بــې یــاره انجــونې لاس تــر زنــې ناســتې وینــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



خير که هر څو د زړه چاودون و
کـــه تنهايي او که بېـــــلتون و
يا درد و غـــــم و يا ســـــکون و
مينه خو نوم د ښــــه ژوندون و
بـې مينـې ژونـد راتـه بـې خونـده دی مئينـه

***

توبه له جنګه نوره وکــــــړئ
او يو تر بله جوړه وکــــــړئ
يو اتفاق شئ سوله وکـــــړئ
ځوانانو بس دی روغه وکــړئ
مينــدې شــوې کونــدې يتــيمان ژړا کوينــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ما به غم دا اختر نه وی
قلم قلم به ځیگر نـــــه وی
د زړه په سر به پرهر نه وی
که مې جانان مسافر نه وی
تــر نیمــو شــپو پــورې بــه ولــې ژړیدمــه

***

کډه ترمه درنه ځـــــمه
کلی پریږدمه درنه ځمه
په غر او سمه درنه ځمه
د جانان غمه درنه ځمه
دا ســتا د لاســه مــا لــه نــه راځــي خوبونــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره وړه یمه کمـــــکۍ یـــــم
په تورو شپو سپینه سپوږمۍ یــم
ډېره ښایســـــته یم ګلالـــــۍ یم
وروور مې ټوپک دی زه ګولۍ یم
پــــه تـــــورو غـــرو مـــې اړوي ژړا راځینـــــه

***

زما جانانه غنمــــــــــــــــــرنګه
دا زه دې وویستم لــــــه ننګه
کانې دې وکړې رنګ په رنګه
نه ګلالۍ یـــــــــم نه بدرنګه
زه غنمرنګــــه یــــم ځوانــــــان رنځورومــــــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرهر پرهر زړه ته ټکـــور يـــې
زما د دواړو سترګو تــــور يې
لکه ګلاب داسې سمسور يـــې
څنګه خواږه خوارږه را ګورې
پلــــو دې ونيســــه چــــې زړه در واچومــــه

***

د زورورو د زور نه يـــــــــم
سم سمندر يمه اور نه يـــــم
پوی د حالاتو په سور نه يــم
يمه پردی د چا ورور نه يـــم
ورځ کې خواري د شپې پېـره د ځـان کوومـه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



یار نه بغیر مې ژوندون ګران دی
زما زړګی دی زمـــــا ځان دی
دا خپلول زما ارمـــــــــان دی
دا یو مې زړه یو مې جـانان دی
نــورو تــه نــور زړونــه لــه کومــه پیــدا کړمــه

***

د جونو بیا شور په ګــــودر دی
ته به وی سم کوچنی اختر دی
په مئــــــینانو جوړ محـشر دی
د پیغلې خوله د جــنت ور دی
د جنـــت ور تـــه هـــر ســړی تمـــه لرینـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



همېشه ګرځم بې ســــينګاره
کړم دې د ژوند څخه بېزاره
تپوس مې وکړه خدای لپاره
بابا مې نه درکـــــــوي ياره
لاړ شـــه بابـــا بانـــدې مـــې وکـــړه تعويذونـــه

***

ليدل دې نه وو معجزه وه
زما خو ډېره اندېښـــــنه وه
سم د جنت پشان خوږه وه
بېګا مې يار سره وعــده وه
د لاس بنګـــړي مـــې پـــه رومـــال تـــړلي وونـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې نرى نرى خـــــوږيږي
جانان مې هـــر وخت رايادېږي
يوه شپه مـــــې نه هــــيريږي
چې کبر نکړي نه خــــواريږي
خاونـــده خدايـــه مـــا بـــه کـــبر کـــړى وونـــه

***

دنيا په مينه ښه ښکاريــــږي
هم پاک الله پرې خوشاليږي
په مئينانو خپه کـــــــيږي
پاڼه په باد باندې رپيــــږي
جينۍ چې خال په تندي ږدي څوک به لرينه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خو دا ستا يم
او بــــې پروا يم
ای زه مـين دې
پــــــه ښـکلا يم
اول مې نه ويل اوس يې وايم
د زړه خــــبرې مــــې پــــه خولـــه راغـــلي دينـــه

***

چې مازيګــر وي
بل زيړی لمر وي
جونې چې ټولې
په ګــــــودر وي
د زرو قدر په زرګـــــــــر وي
د پيغلـــــو قـــــدر پــــه نـــادانو وړکــــو وينــــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیره کمکۍ یم
د ګل غوټۍ یم
په تـا مـــــــئینه
لیونۍ یـــــــم
زه کلیواله شـــان جـــــــینۍ یـم
د ښـــار هلـــک یـــې درتـــه یـــاد دي ډیـــر چلونـــه

***

ما شوګیرې کــــړې
ډیرې خوارې کړې
یار راته جــــــوړې
بهانــــــې کــــړې
جانان مې جرړې د زړه پرې کړې
لکـــه نښـــتر پـــه تاویـــدو ځمکـــې لـــه ځمـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه په درزا شي
ډېر وارخطا شي
د چا خـــيالونو
کې تـــــبا شي
چې ځان ته کيـــــنم ژړا راشي
بـــې وفـــا يـــاره زه پـــه ژونـــد ســـتومانه شـــومه

***

دا څـه ژوندون دی
د زړه چاودون دی
خدايه ډېر ســخت
د يار بيـــلتون دی
ما خلکه کـــــړی دا تړون دی
نـــه بـــه ورځمـــه نـــه بـــه يـــار نـــور يادومـــه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رڼا لګیــــــړي**

**تیاره ټولیــړي**

**زما له حـــــاله**

**څوک خبریږي**

**که یاري کــړم مخ مې توریږي**

**کـــه یـــاري نکـــړم ماشـــومان لـــه ولـــږې مرینـــه**

***

**رنګـــونه راوړه**

**خوندونه راوړه**

**ځان سره تېر**

**وخـتونه راوړه**

**ماته ځـــــــولۍ ګلونه راوړه**

**زه د وربـــــــل د پاســــــه چــــــتر جوړومــــــه**

***

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**